# د پښتنو د تعلیم او تربیت په لړ کښې د

# (باچاخان تقریري، تحریري او عملي زیارونه)

نوید جمال



(دویمه برخه)

د انګرېزانو د راتګ نه وړاندې د پښتنو د تعلیم او تعّلم حال خو مونږ وکتو او بیا دا هم چې د انګرېزانو د راتګ سره چې کومې رسمي تعلیمي ادارې جوړې شوې، نو هغه د پښتنو د بچو دپاره په کوم انداز پېش کړې شوې .او په څه جوړ ترې د پښتنو بچې لرې وساتلې شو .اوس به ګورو چې باچا خان خپله په دغه لار د کومو پړاوونو نه راتېر شو .او هغه په دغه رنګ صورت حال کښې خپله ذدکړه څنګه او د چانه وکړه .

عبدالغفار خان (باچا خان بابا) د پښتنو په خاوره د چارسدې، هشنغر په اتمانزو نومې کلي کښې د بهرام خان کره په کال1890 ء کښې په دې دنیا سترګې پرانستې وې .د بهرام خان تعلق د محمدزي قبیلې سره وو، دې پلار په نیکه د دغې علاقې یو صاحب جائیداد، ولې فقیر تبع او خاکسار مزاجه سړے وو .څوک چې په دې راز پوهه وو چې خپل اولاد د علم په کالو سنګارول د نن وخت لوئے او اهم ضرورت دے .باچا خان د مور پلار کشر اولاد وو او فطري خبره ده چې کشر اولاد مور پلار ته ډېر خوږ وي .دغه وجه ده چې هغه ته هم د نیازبین توب خواږه د نورور رونو خوئیندو په نسبت زیات نصیب شوي دي .بیا دا هم یو فطري امر دے چې نر اولاد مور ته ډېر خوږ وي او د هغوي د ماشومتوب هره جائزه او ناجایزه ډېره په مینه وړي .د خپل دغه نیازبینتوب قیصه باچا داسې کوي .

" زه د مـور پلار کشر زوے ووم .او کشرے اولاد په مور پلار ډېر ګران وي .او ورسره ئې ډېره مينـه او محبت وي، او نيازبين وي .زه هم مور او پـلار تـه ډېر نيازبين وم .او زمـا دې نيازبينتوب مـاتـه ډېر نقصان رسولے ؤ .او زمـا مور له ئې ډېر تکليف ورکړے ؤ .مـا چې به ويل که دوي به منل خـو ښه او که به ئې نه منل او د منلو به نه ؤ، نو زه بـه بيا په زمکه رغړېدم او په چغو چغو به مې ژړل او تر هغې پورې به مې ژړل او لغړېدمه به، چې تر څـو بـــه زمـا مـور زمـا خبـره مـنـلې نــه وه ". (16:1)

د تـعليم و تعّلم ماهيرين وائي چې د مور غېږ د هـر مـاشوم ورمبۍ درسګاه وي .او دغـه درسګار مـاشـوم تـه هر هغه څه په ورمبي ځل وربښائي څه چې د هـغـــه د ژونـد او ژواک اهم ضرورتونـه وي. لـکـه ژبـه، خويونه، خصلتونه، عادتونه، تهذيبي قواعد او کلتوري رنګونه او داسې نور .ولې ځنې وخـت داسې هم وشي چې د بچي د ډېر نيازبينتوب لـه وجې ئې ميـاندې د خپل ماشوم په ناجائزو هم سـتـــرګې پټې کړي او دغـــه نـاوړه عـملونـه بيـا وروستـه د هـغـه پـه فطرت کښې شامل شي .چې نتيـجې ئې بيا افسوس او ويرونه وي .بـاچا خان بـابا هم د خپل ماشومتوب د يو دغسې ناوړه عمل قيصه څه دا رنګ کوي.

"زمـونږ بـه ډېـره غّله کېدله، کندوان به ډک وو، چې نـوې غّـلـه به را ولګېدله نو بيا به مو هـغـه زړه غّله خرڅوله، زمونږ د کور سره يوه د رام او کيـوسنګ هټۍ وه دا دواړه ورونړه وو .مـا بـه ټـولــه ورځ ددې کـنـدوانـو نـه غّلـه دې هټۍ تـه زغـلـوله، په هغه وخت کښې به په هټو کښې ددې قسـم څيـزونـه نـه وو لـکه نن ئې چې مونږ وينو. زيات نه زيات به په کښې املوک، غوزان، چنې او مـنـچې وې او مـاسپښين نه پس به ئې باټنګې او پکوړې تلولې .مـور به راله دوه درې ځله په ورځ کښې په جولۍ کښې غّله راکوله لېکن په هغې به زمـا تسلي چېرته وه، اکثر به مې د هغې نه په پټه دانې د کندوانو نه هم وړلې او کتل به مې چې مور بـه مې اخـوا دېخوا شوه نو ما به په يوه منډه هټۍ تـه ځـان رسـاوه، کله ناکله چې به د مور راته فکر شـو نو اواز به ئې راباندې وکه چې ((نه به ځې)) او ما به پښو له ښه زور ورکه، لېکن ددې نه زيات بـه ئې راته څه ويل نه .زه خـو مور ته ډېر ګران او نيازبين وم .زه خـو پـه خپل سود او زيان، ښو او بـدو نـه پـوهـېدم او دا خـو ما سره مور ښه نه کول ځـکـه دې کـار په ما کښې د غلا عادت پېدا کولو. زمـا مـور له پکار وو چې زه ئې د دې عمل نه منع کولې او زه ئې پوهولې چې بچيه دا کار خو بد دے او تـه بـايد دا بد کار ونه کړے .تـه چې څه غواړې هغه خو زه درکوم .زه ئې بايد پوهه کړے وے .او ددې عـمـل نه ئې توبه ګار کړے وے .ځکه چې د مـور غېږ خـو د انسـان اولـه او ډېره مهمه مدرسه ده ".(1:16،17 )

د خپـل ځـان او د خپل ذات او خپلې خوږې مور

دا قیصه باچا خان مونږ ته په دې نیت کوي چې په معاشره کښې ددغسې مور او پلار اصلاح وشي. ولې د یو ماهر تعلیم په هېڅ هغه ددې نقطې نور وضاحت په یوه وړه شان قیصه کوي .کومه چې هغه ته عبدالولي خان کړې وه .هغه لیکي چې..

ولې راته کیسه کوله چې زه په لندن کښې سهار د خپله مکانه را ووتم چې ګورم نو یوه ډېره ښکلې منه د ونې نه راپرېوتې ده .یو ماشوم هلته ولاړ دے .ما ورته اشاره وکړه چې واخله (Take it( نو هغه راته ګوته وخوځوله چې نه، دا زما نه ده (No, its not mine) هغه خو ماشوم ؤ .دا ورته چا ښودلي وو؟ دا ورته مور ". (1:17)

حقیقت دادې چې ماشوم صرف په مدرسه کښې ذده کړه نه کوي بلکې په کور کښې هم ډېر څه ذده کوي .د کور په ماحول کښې دا معلومات او دغه واقفیت ته اګر چې د تعلیم نوم نه ورکړے کېږي. خو بیا هم په کور کښې د ماشوم ذدکړه د رسمي تعلیم دپاره بنیاد ضرور تصور کېږي .اوس دغه بنیاد په توجو سره نور هم مضبوطېږي او په عدم توجه کمزورې کېږي .ماشوم د کور ذدکړه د ځان سره مدرسې ته وړي .دغه نقطه باچا خان داسې بیانوي .

په ماشوموالي کښې چې څه عادتونه په بچو کښې پیدا شي نو چې بیا غټ شي نو هم په کښې وي .او په ډېر مشکله د هغو بدو عادتونو نه خلاصېدې شي .زه چې به د شپې د مور سره اوده وم نو په شپه کښې به چې راویښ شوم نو به مې وژړل او چې نه به چپ کېدم نو مور به راته ویل چې هغه دے (بو) راغے هغه دے (پېرے) راغے نو دا زما په ذهن کښې تر اوسه پورې د (بو) او (پېري) دا وېره پرته ده .حالانکه چې زه په دې خبره پوهه یم چې نه (بو) شته او نه بلا شته، زمونږ یوه لویه کوټه وه، مونږ ټول به په هغې کښې څملاستو زه ښایسته لوے وم .خو یوازې څملاستے نه شوم . د مور سره به څملاستم ځکه چې زه به یوازې وم نو په ما به خپسه راتله .زه چې بیا ښار ته د سبق له پاره لاړم نو چې بابا به مې ښار ته راغے، په ما به اختر ؤ .ځکه چې بیا به د هغه سره څملاستم ".(1:17)

د پښتنو په معاشره کښې دا قیصه د پخوا نه را روانه ده، چې ماشوم لږ لوئے شي نو د کلي په جماعت کښې ئې د مُلا صاحب سره د قرآن شریف ختم ته کېنوي .د یو مسلمان په حېث د باچا خان پلار هم دغسې وکړه او هغه ئې وړمبې د کلي په جماعت کښې د قرآن لوست ته د مُلا صاحب کېنوو .هلته هغه څه ذده کړه .په دغه اړه باچا خان لیکي.چې

پلار مې زه او محبت خان چې زما د تره زوے و او زما همزولے و او پلار ئې مړ شوے ؤ، د کلي په جماعت کښې د اسماعیل استاذ سره سبق ته کېنولو .زما د سبق په ناسته زما مور او پلار ډېر خوشحاله شول او ډېرې شېرنۍ ئې ووېشلې. د اسماعیل استاذ نه مې قران ختم کړو، مور او

پــلار مې ډېـــره خــوشـحـــالي وکړه، شېــريني ئې ووېشله او استاذ له ئې ډېره شکرانه ورکړه .خو زه په قرآن پوهه نه شوم ".(1:20)

په قرآن د نه پوهېدلو وجه د باچا خان ګُند ذهـنـي نـه، بـلـکې د مُلا صاحب د قرآن په ښودنه کښې صرف د لـوسـت تـر حـده د هغې د ختمولو روايتي طريقه ده .او دغـه طريقه تر ننه زمونږ په پښتنو کښې موجوده ده .زمـونږ مور پلار بس په دومـره خوشحاله وي چې بچي مې قرآن په لوست سره ختم کړو .پـوهـېـدل او نـه پوهېدل ئې دومره مسـئـلـه نه ده .بـلـکې پښتانه ئې د دغې رسم په پـوره کولو ډېر خوشحاله وي چې د نورو په مقابله کښې ډېـر ډېـر خېـراتـي دېګونه پاښه کړي او ډېره ډېره شکرانه وويشي.

د انګـرېـزانـو، هندوستان ته د راتګ نه پس د پښتـنـو د تعليم و تربيت دپاره چې کومې رسمي ابتـدائي تعليمي اداري جوړې کړې شوې .د هغې نـه بـه زمـونږ مـلـيـانـو د انګـرېز سرکار په لمسه پښتـانـه بچي منع کول .او دغـه سندره ئې لکه د متـل پـه پښتـنـو ذهـنونو کښې کېنوله او پخوله چې:

سبـــــق د مـــــــدرسې وائـــــــي
دپـــــــــــاره د پېسې وائـــــــي

پــه جـنـت کښې بــه ئې ځـائے نـه وي
پـــــه دوزخ کښې بــــه ګسې وهــي

خـو د بـــاچـــا خـــان او د هغـه د ورور، ډاکټـر خـان خـوشبختي دا وه چې پلار ئې د يو متقي مسلمان سره سره په دې راز هم پوهه وو چې د ديني ذدکړې سره سره دنياوي تعليم هم ضروري دے .ځکه ئې پـورتنۍ ټپه هډو په غوږ نه لګوله .او خپل بچي ئې د ديـنـي سبـق سـره سـره په دنياوي تعليم هم سرفراز کول.

د خوش قسمتۍ نه زما پلار سره ددې چې متـقي مسلمان و، خو روشنفکره سړے وه، هغه د مـلايـانو د پروپېګنډې هيڅ پرواه ونه کړه او مونږ دواړه ئې په سکول کښې داخل کړو ".(1:20)

چـونـکې باچا خان د مور پلار کشر زوے ؤ، نـو د کشـرۍ د نيـازبيـنـتوب لـه وجې ئې مور پـلار غـوښـتـل چې زمونږ د سترګو وړاندې وي .د کـلي پرائمري سکول هم وو خو ولې د کلي ماحول او د کـلي والو پرې جنبې، دوښمنۍ او تربګنۍ او جـنـګ جګړو لـــه وجې ئې مـجبـوراً د پېښور پـه ميـونسپل روډ هائي سکول کښې په کال1898 ء کښې داخل کړو .چـــرتـــه چې د هغـه مشـر ورور خـانـصـاحب (ډاکټـر خـان) د مـخښکې نـه سبق وئيلو. (2:12)

(نور بيا)

حوالې/ماخوذ

(1) زمـا ژوند او جدوجهد، عبدالغفار (خان باچا خـان)، خپروندوي :د افـغـانستان د کلتوري ودې ټولنه-جرمني، چاپ کال2008 :ء/1387
(2) باچـا خـان عهـد ساز شخصيت، ډاکټر محمد هـمايون هما، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، 2013ء .

☆☆☆